مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۶/۱۱/۱۱

محمدسمیع صادق

او

په پښتوهنري نثر کې د یونوي ژانر ایجاد

لومړۍبرخه



مکتب

(کیسه په سلوټکو کې)

«په انګړ کې ئې باران په شړپ وو.

لږ لږي د غره په لمن کې بیا شین آسمان سړې و زرغونې رنګین کړی وو.

انا ئې وپښتان ور چوتې کول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پېغله نجلې د خپل خټين کور له کړکيه د بودې د تال په نندارە وه.

وېښتان ئې د انا له لاسونه وايستل، وې ويل:

- بي بې تا ويل څوک چې تر سرې و زرغونې تېر سي، هلک به نجلې سي او نجلې به هلک کېږي... چترې دې راکړه زه تر تېرېږم، نارينه به سم، بيا خو مي مکتب ته پرېږدي...

انا ئې په خندا سوه،

- درځه زويه دواړه ځو، مکتب خو ما هم نه دئ ويلی!»

(محمدسميع صادق)

په دې مقاله کې د داسې يو قلموال په باب بحث کيږي چې غږځورې يې لږ، خو کار يې ډېر دی، نوښت يې د قدرو دی، چلن يې داسې نرم ــ استادانه دی لکه د پاخه‌عمر چې وي او ډېره اوږده فرهنګي مخينه ولري. دی د فرهنګ په څو برخو کې عملاً قلم چلوي او فرهنګي توليدات وړاندې کوي.

استاد محمدسميع صادق يادم. کله مې چې د ده د فرهنګي کارونو څوبيلګې وليدې، نو مې وپتيله چې يوځه به پرې ليکم. د وخت په تېرېدو سره د ده د قلم او هنر نور اړخونه هم راته څرګند شول چې دی شعر هم وايي، لنډې کيسې هم ليکي، د څېړنيزو مقالو د ليکلو استعداد هم لري او...

د همدې له پاره به لومړی له ښاغلي سميع صادق سره درانه لوستونکي اشنا کړم، وروسته به د ده د هنرونو او ادبي شخصيت پر ځينو اړخونو، د بيلګو په وړاندې کولو سره وغږېږم:

د ښاغلي سميع صادق پېژندنه:

کله مې چې له ښاغلي سميع صادق سره د ده د بيوګرافي خبره مطرح کړه، ده ما ته د خپلې ځانګړې لوريني له مخې د خپل ژوندليک دا متن راوليږه:

«محمدسميع صادق د ۱۹۸۰م. کال د جولای پر ۲۷مه نېټه د افغانستان د هلمند ولايت په مرکز لښکرګاه ښار کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۸۳م. کال کې د افغانستان د جګړو له امله د ده کورنۍ پاکستان ته کډواله سوه. که څه هم د لنډ وخت لپاره ېېرته خپل وطن ته راستانه سول، خو د حالاتو خرابوالي هغوی يو ځل بيا د کډوالۍ ژوند ته مجبور کړل.

محمدسميع خپلې لومړنۍ زده کړې په پاکستان کې ترسره کړې او د «تعمير نو پبلک های سکول» څخه ئې، چې د اردو ژبې ښوونځی دئ، د لسم ټولګي سند ترلاسه کړ. وروسته ئې د سياسي علومو او ټولنپوهنې په څانګو کې د لېسانس زده کړې بشپړې کړې. هغه بيا د بلوچستان پوهنتون څخه د انګليسي ادبياتو په برخه کې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ.

ده نژدې لس کاله د پاکستان د کوټې په ښار کې د انګليسي ژبې د ښوونکي په توګه دنده ترسره کړې ده. د همدې مودې په ترڅ کې ئې د اردو ژبې ورځپاڼې «عوام» لپاره د خبريال په توګه هم کار وکړ او له ژورنالېزم او ټولنيزو چارو سره ئې عملي تجربه ترلاسه کړه. افغانستان ته تر ستنېدو وروسته په خپل آبايي ټاټوبي، کندهار ښار، کې مېشت سو او په يوه کوپراتيف، چې د نړيوالو مرستندويو ادارو په ملاتړ ئې فعاليت کاوه، کې د مدير په توګه دنده پيل کړه. خو اداري مسؤليتونو هغه له خپلې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اصلي دندي، يعني ښووني او روزني، څخه ليري نه کړ. نوموړي د مابنامونو په ارامو ساعتونو کي د انګليسي ژبي درسونه هم ورکول.

سميع په ۲۰۱۰م. کال کي سويډن ته مهاجر سو او تر اوسه هلته ژوند کوي. هغه د لويانو لپاره د پښتو او دري ژبو ښوونکی دئ او د مورنۍ ژبي په مرسته له زده کوونکو سره د سويډني ژبي په زده کړه کي مرسته کوي.

ادب د ده د ژوند له لومړيو کلونو راهيسي د ده ملګری پاته سوی دئ. د ماشومتوب او ځوانۍ پر مهال ئي په ډېر شوق سره ورځپاڼي، مجلي، کيسي او ادبي آثار لوستل، په ځانګړي ډول د اردو او انګليسي ژبو ادبيات. د هغه لومړنۍ ادبي هڅي په اردو ژبه کي د آزادو شعرونو او لنډو کيسو ليکل وه. خو د انګليسي ادبياتو د لوړو زدهکړو پر مهال ئي دا احساس وکړ چي له خپلي مورنۍ ژبي، پښتو، سره د ليکوالۍ په ميدان کي هغه تړاو نه لري چي بايد وي لري. همدې احساس هغه دې ته وهڅاوه چي پښتو خپله زده کړي او د هغې د ادبي نړۍ ژورو ته ورننوځي.

د پښتو د شعر او نثر د بېلابېلو اثارو په لوستلو سره ئي ورو ورو خپله ادبي لاره ومونده او پښتو لنډي کيسي، ادبي ټوټي، شعرونه، مقالي او نوري ليکني ئي بېلابېلو انلاين رسنيو ته ولېږلي. له هغه وخت راهيسي ئي ګڼي مقالي، نظمونه، ادبي ټوټي او کيسي ليکلي دي، خو دی لنډه کيسه لا هم خپل د ادبي مينې او تخليقي شوق تر ټولو مهمه برخه ګڼي.

دی ځان د پښتو عروضو يو ټنبل زدهکوونکی بولي. د ده په نظر ده لا تر اوسه داسي غزل نه دئ ليکلی چي دی ئي د پښتو عروضو د ټولو غوښتنو له مخي بشپړ وبولي، خو باور لري چي د دوامداري مطالعې او هڅې په مټ به يوه ورځ دې موخې ته هم ورسېږي.

محمدسميع صادق په پښتو، دري، اردو، انګليسي، هندي، پنجابي (ګُرمُکي او شامُکي) او سويډني ژبو لوستل او ليکل کولای سي. د هغه ډېری ادبي اثار په پښتو، انګليسي او سويډني ژبو ليکل سوي دي، خو کله ناکله په اردو او ډېر کم په هندي ژبه ليکني کوي، چي خپرې سوي نه دي . د هغه ادبي هيله دا ده چي د هغو ژبو له معاصرو ادبي تجربو او نوو نثري ژانرونو څخه، چي دی ورسره بلد دئ، ګټه واخلي او د پښتو ادب په بډايني کې وکاروي.»

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ